# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|



فریدریش انگلس

د ح. بریالی ژباړه

۰۹ سپتمبر ۲۰۱۷


# د مزد سیستم



فریدریش انګلس

په يوي پخواني مقالي کي مو د احترام وړ شعار د "ورځيني عادلانه مزد ، ورځيني عاالادنه کار لپاره " !مو وکاته او دي نتيجي ته ورسيدوچي په ننني تولنيزو مناسباتو کي ، عادلانه ورخيني مزد په انکار نه منونکي توګه د مطلق ناعادلانه محصول ويش دي چي دکارګر په لاس رامنخته کيږي، ځکه چي د دغه محصول اعظمي برخه پانګه وال جيب ته اچوي ، په داسي حال کي چي کارګر مجبور دي هغه اندازي ته چي د هغه دکار د دوام او دهغه دنسل دبقا لپاره ضروري وي ، قناعت وکړي.

دا د سياسي اقتصاد قانون او يا په بل عبارت د شته تولني د اقتصادي تشکيلاتو قانون دي چي د انګلستان د ټولو ليکل شويو او ناليکل شويو قوانينو نه په اضافه د عالی محکمی ،- لا قدرت لرونکی دی له هغه وخته چی تولنه په دوه متخاصمو برخو ويشل شوي ده يعني له يو پلوه پانګه وال چي توله د توليد وسايل لکه ځمکه، خام مواد، اوماشينونه يي په خپل انحصار کي راوستلي دي او له بله پلوه کارګران يعني هغه زيار ايستونکي چي پر توليدي وسايلو باندي له هر راخ ملکيت نه محروم دي او دخپل کار له قوت پرته بل څه نلري.

هو، تر هغه مودي چي دغه ټولنيز تشکيلات شته دي ، دمزد قانون لا په قوت کي دي او هره ورځ نوي ځنځيرونه جوړوي ترڅوچي دهغو په وسيله کارګران دخپلو محصولاتو مره بيان- چي دپانګه والو په انحصار کي راغلي دي - تبديل کړي .د انګلستان کارګري اتحاديي له تقريبا شپيتو کالو راهيسي د دغه قانون پرضد مبارزه کوي .ښه، دهغي نتيجه څه ده؟ ايا توانيدلي دي چي کارګره طبقه دپانګي له نوکري يعني دخپل کار دمحصولاتو نه ، ورغوي؟ ايا داسي موقعيت يي حتي دکارګرانو يوي ډلي ته په برخه کړي دي چي توانيديلي وي دهغو په مرسته هغوي دمزد مره يي يتوب له درجي نه جګ کړي او د توليد د وسايلو او خاموموادو او دکار وسايلو او د خپل مسلک لپاره د لازمه ماشيني وسيلو خاوندان کړي وي او په دي توګه هغوي يي دخپل دکار د محصول خاوند کړي وي؟

مونږ ټول پوهيږو چي کارګري اتحاديو نه يوازي دا کار يي ونکړ بلکه هيڅکله يي په دغه مورد کي کوښښ هم ندي کړي .مونږ په هيڅ وجه نه غواړو ادعا وکړو چي له هغه ځايه چي کارګري اتحاديو داسي ندي کړي ، نو دهغو شته والي بي ګټي دي بلمقابل کارګري اتحاديي څه په انګلستان او يا هربل صنعتي هيواد کي کارګري طبقي ته دپانګه والي پرضد ، يوضرورت ګڼل کيږي.

دمنځني کچي مزد ، هغه پيسي دي چي ديو هيواد د عادي ژوند دکچي لپاره د هغه هيواد د زيارکښانو احتياجاتو ته بس وي .دغه د ژوند کچه کولاي شي د کارګرو مختلفو قشرونو ته متفاوته وي .هغه لوي خدمت چي کارګري اتحاديو د مزدونو د جګولواو دکار دساعتونو دټيت والي لپاره په مبارزه کي کړي دي.

دا دي چي دوي کوشش کوي چي د ژوند کچه وساتي او پورته يي يوسي .ډير کسبونه شته دي چي د معمارانو او دهغو د شاګردانو په اندازه ورته مهارت په کار دي او په هماغه اندازه پيچلي دي اما سره لدي هغه مزد چي هغوي ترلاسه کوي په مشکل د معمارانو او د هغوي د شاګردانو نيمايي اجرت ته پاتي کيږي___.

دا ولي؟ دقيقا په دي خاطر چي يو قوي تشکيلات ، د هغو يوه ډله دي ته قادره يي چي وکولاي شي د جاري لوايحو پربنسټ چي دهغه په اساس اجرتونه ټاکل کيږي، د لوړي کچي ژوند مطالبه وکړي ، په داسي حال کي چي بله ډله چي تشکيلات او توان نلري نه يوازي بايد دکار د خاوندانو الزامي بلکه ظالمانه تيريوته هم غاړه کښيږدي.

يعني په تلو تلو کي د هغوي د ژوند کچه ټيټيږي او په دي عادت کوي چي تل په لږ لاس مزد سره خپل ژوند ته دوام . ورکړي.

او طبعا دهغوی د مزد بيه هغه کچی ټيټيږي .چي په خپله دوي د وخوره ممره تر نامه لاندي ورته غاړه ايښي ده .له دي کبله دغه دمزد قانون هغه شان ندي چي يو وچ او کنګله پوله وټاکي بلکه په يو مشخص چوکاټ کي شتون لري او انعطاف نه منونکي ندي.

"په استثنا د بازار د لويي کسادي په دوران "په هره موده کي ، په هر کسب کي مشخص حالات شته چي په کي کيداي شي دمزدونو د سطحي کچه د دښمنو خواوو دمبارزي په نتيجه کي تغير ومومي .په هر صورت لاسي مزدونه کولاي شي چي د چني وهلو په وسيله معين شي او په دي چنو وهلو کي هغه خوا چي وکولاي شي په اوږدمحال کي او موثره توګه استفامت وکړي، شايد دي ته ډير چانس ولري چي ډيره دهغه نه چي ده ته رسيږي، لاسته راوړي.

که کارګران وغواړي چي په ځانګړي توګه له پانګه والو سره معامله وکړي، په ډيره ساده ګي ناکامه کيږي او مجبور دي چي د هغو نظر ته تسليم شي .مګر که ديوي رشتي ټول کارګران يو تشکيلات جوړکړي او په خپلو کي يو اندازه پيسي ذخيره کړي چي وکولاي شي د ضرورت په وخت کي د کاروركونكو په مقابل کي مقاومت وکړي او په دي وجه هغه موقعيت ولري چي وکولاي شي د يو قوت په توګه له کاروركونكو سره مذاکري وکړي ، فقط او فقط په دغه ډول ده چي کارګران به وکولاي شي چي لااقل هغه ډيري کمي چي د اوسني ټولني په اقتصادي ترکيب کي ، ورځيني

عادلانه مزد د ورځيني عادلانه لپاره، منل شوي دي، لاسته راوړي .دمزد قانون د اتحاديو د مبارزي له کبله زيان نه مومي بلکه بالمقابل په دغه وسيله اعتبار پيدا کوي .پرتله دهغه مقاومته چي د کارگري اتحاديو له لخوا ترسره کيږي ، کارگر حتي نشي کولاي هغومره چي د مزد دسيستم دمقرراتو په وجه هغه ته تعلق لري، تر لاسه به يي نکړي.
فقط ډار له کارگري اتحاديو پانگه وال هغي ته لمجبوره وي چي په بازار کي د کار دتوان ارزښت ، کارکرانوته تاديه کړي.
شاهدان غواړي؟ هغه مزدونوته چي د کارگري لويواتحاديوغړو ته ورکول کيږي او هغه له هغو مزدونو سره چي د وړو کسبونوپه حسابه قطار کي دريدلي دي " لندن "يعني هغه زړه بوگنونکي فقر سره پرتله کړي .په دي حساب کارگري اتحاديي دمزد په سيستم ناوړتيا نه راولي .البته دا د مزد د کچي جگ والي او ټيټ والي ندي چي د کارگري طبقي د ذلت موجب گرځي .دا ذلت پر دغه بنسټ ولاړ دي چي کارگره طبقه د دي پرځاي چي د خپل کار مقابل کي خپل د کار ټول محصول تر لاسه کړي ، مجبوره ده چي د خپلي د يوي برخي محصول د لاسته راوړلو لپاره چي مزد نوميږي ، رضايت وښيي.
(پانگه وال ټول دکار محصول ځانته کوي او له هغي نه کارگرته مزد ورکوي)ځکه چي هغه د توليد د وسيلو خاوند دي او له دي کبله ترهغه چي کارگره طبقه د ټولو توليدي وسايلو لکه خمکه، جايداد، اومه مواد، ماشيني الات او نورو خاونده نشي او په دا رنگه د خپل د کار د ټولو محصولاتو څښتنه نشي، هيڅ ډوډ حقيقي خلاصون کارگري طبقي ته شتون نلري.

سوسيايسم کارگری شمارۀ ۳۶